1,000,000

محمد ایاز نوري آزادي

09-03-2018

پیام تبریکیه به مناسبت تجلیل از بازدید 1000,000 نفر در (AGO)

د افغان جرمن ان لاین د پورتال درانه مدیریت ته!

السلام علیکم
هیله ده، چې تاسو ټول د شي روغتیا ځخه برخمند واست او وخت مو خوشال تیر شي. په خوشالي سره مو اطلاع تر لاسه کړله، چې د پورتال د محاسبې د ماشین پر اساس د ورستي یو کال او ځلورو میاشتو په موده کښې د یو میلیون کسانو په شمیر افغانانو د افغان جرمن مشهور او بریالي نشراتي جال ته مرحعه کړې او له نشر شویو مطالبو ځخه ئې استفاده کړې ده. زه د دغه نشراتي مرکز د یوه همکار په توګه په دغه لوړ رقم د مراجعینو، فقط ویاړ او افتخار کوم. دا وضعیت ښیي، چې د پورتال محترم مدیر صاحب شاعلی انجنیر محمد قیس کبیر او ورسره کاري ملګري یې په نه ستوي منونکي ملي افغاني روحیه پورتال اداره کړي دئ. زه د دغه مهم او ارزښتناک انکشاف دغو درنو کار کوونکو او د ټولو درنو افغانانو ته مبارک مو شه وایم.

د پورتال د نویو بریالیتوبونو په هیله